زمونږ پروردګار، تبارک وتعالى، هره شپه په وروستۍ پاتې دريمه برخه کې د دنيا اسمان ته راکوزيږي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «زمونږ پروردګار، تبارک وتعالى، هره شپه په وروستۍ پاتې دريمه برخه کې د دنيا اسمان ته راکوزيږي وايي چې: "څوک شته چې ما راوبلي او زه يې بلنه ومنم؟ څوک شته چې زما څخه سوال وکړي او زه يې ورکړم؟ څوک شته چې بخښنه راڅخه وغواړي او بخښنه ورته وکړم؟"
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندوي چې الله جل جلاله هره شپه دشپې په دريمه وروستۍ پاتې برخه کې د دنيا آسمان ته راکوزيږي، خپل بندګان هڅوي چې راويې بلي، ځکه هغه ذات د هغه چا بلنه مني چې راويې بلي، او دې ته يې هڅوي چې خپلې غوښتنې ورڅخه وغواړي، له هغه ذات څخه چې څوک غوښتنه وکړي هغه يې ورکوي، او (خپل بندګان) دې ته رابلي چې د خپلو ګناهونو بخښنه ترې وغواړي، ځکه هغه ذات خپلو مومنو بندګانو ته بخښنه کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10412

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee